مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خالق رشید ٢٠٢٠/٠۴/٢٨

# وروستی لاری...

## لنډه کیسه

**ډالی: د ثور اتمي ته!**

نږدې یو کال شو چې دوی د شهید پلار له خالي تنخوا پرته چې هغه هم په خپل وخت نه ورته رسیږي ، داللہ په دربارکې بله چاره نه لري ، نور خپلوان یې هم نشته، چې دوی ته لاس ورکړي ، اویا که کومه ورځ په تپه دریږي ، نو بیا به ددوی مخ ور واوړي ... نه ، هیڅ شی اوهیڅوک هم نه لري. ترټولو بده خو لاداده چې ښوونځي هم وترل شول ، پرښارباندې توغندي چا ته وخت نه ورکوي ، چې له کوره دې په خلاصو خانګونو آزادې هوا ته ووځي ..، کوچنی زمرک تولہ ورځ مور ته ګوري اوموریې بیا د سترګو اوښو تر منځ هم دده پرباندې ونو باندې نه ده خوشاله ...ژوند له هرې خوا پردوی او په سلګونو دوی غوندې همداسې دخواری اونا چارې ساړه وزرونه راغوړولي دي . ټول امید یې دادی چې جګړه پای ته ورسیږي او دوی په خلاصو متو دخپل کورد بام له سره دکابل دشینکي آسمان اوملاقي کوترو آزاده ننداره وکړي ... په دې هیله دې چې زمرک به ښوونځي ته ځي، مور به یې هم دمیاشتې په پای کې دخپل شهید خاوند چې دوی ترې په سپیره میدان پاتې شوي وو، تنخوا په خوشاله زړه خپل کورته راوړي او ژوند به یې پریوه خوا خپله لاره ورباسي ...خو دایوخوب دی چې دوی یې وینې ځکه جګړه اوس لکه د اوښ کولمه ورځ په ورځ اوږدیږي اودهرې شیبې په لمنه کې د ژوند هیلې خوري اود ژوند هیلو ته ګواښیږي . پرزمرک او موریې د تنګسیا خپې لکه ښامار ورځ په ورځ را نژدې کیږي ، ځوانه جانه میرمن، یو زوی او دیوه شهید خاوند تنخوا هغه چې له میاشتومیاشتو وروسته کومه میاشت ورته رسیږي ،او دکابل ددغو شپو ورځو په زړه کې چې وسله وال لیوان په وینو اورونه بلوي ، حیاوې بې حیا کوي ، غلا او وژنه دخدای او رسول قانون بولي لا هم ژوند کوي . لاهم د سبا به هیله هڅیږي ... مور پرزوی تیریږي او زوی بیا دمورهیله منو سترګو ته ګوري، دښارجګړې په زړه کې د وسله والو لیوانو کیسې په هره شیبه کې د دوی وینته له ډیره وحشته زیږه کوي ... او زمرک مورته په مینه ناکه ژبه وایي :

- موري اسلامي شوه ، اسلامي همدا ده چې ټولو به چغې ورته وهلې ؟

مور ډیرڅه نه ورته وایي یوازې دده سترګو ته ګوري او په لنډوکي ځواب ورکوي :

- هو، هو ، همداده ... اصله اسلامي ...

د زمرک پلار دوه کاله دمخه شهید شوی و، خو دمرې په ښه او بد یې نه وخبر، او نه ورمعلومه وه چې څنګه مړشو اوچیرې مړشو ؟ دوي یوازې په دې پوهیږي چې هغه یو هیوادپال پوځي و، جګړې ته یې ولیږه ، خو ورسته یې ملګرو دهغه د شهادت احوال ورته راوړو ، څه موده وروسته یې ملګرو دهغه دشهادت اسناد بشپړکړل او دهغه دلومړی میاشتې تنخوا یې هم ورته راوړه ...

خو زمرک او س غټ شوی ، هغه اوس په دې پوهیږي چې پلاریې له تورتم سره په جګړه کې شهیدشوی ، کله چې له خپلو همزولو سره ، دلوبواوښوونځي پرمهال یوځای کیږي او پوښتنه ترې کوي چې پلاردې شته ؟ هغوی ته هم دده ځواب دادی چې :

- نه پلارمې شهیدشوی ...

خو دی یوازې نه دی ، هغه چې په ټولګی له زیاترو ملګرو څخه پوښتنه کوي ، له هغوی هم کټ مټ همدغه ځواب اوري :

- هو زما پلارهم شهید شوی ...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

نژدې یوه اوونۍ کېږي چې زرو ترور، هغه چې لکه د زمرک د مورپه څېر ځوانه کونډه شوې ، ددو ی کره راځي ، په خبرو خبروکې همدا وریادوي چې دهغې زوی هره ورځ دښارپه کوڅو او ډېرانو کې ګرزي او هډوکي ټولوي ، هره ورځ دومره هډوکي ټولوي چې د دوی ښه ګوزاره پرې کېږي ، زرو ترور دزمرک مورته هم مشوره ورکوي چې زمرک بی کاره پرې نږدي او باید چې ددې له زوی سره ولاړشی ... هډوکي ټولول نه خواري غواړي اونه هم نوره ستړیا ، ګټه یې هم تردېرو شیانو زیاته ...

خو د زمرک مور نه پوهېږي چې څه وکړي ، حیرانه ده چې دچا ومني ، د زرو ترور اوکه دخپل یو وزر والي ؟ دا فکرکوي چې که یې زوی دغه تجارت ته چې سرمایې ته اړتیا نه لري وګماري ، وخت ډېر بد راغلی ،پربښارجګړه راغبرګه ده او پرخیټه لوږه ... هغه هیڅ نه پوهېږي ، د زوی د سبا خبره خو یې ګرده له یاده وتلې ده ، هغه یو وخت و چې خلکو به د خپلوبچیانو په باب فکرکاوه اودهغوی د روښانه سبا به باب به یې رنګین خوبونه لیدل .... هو، هغه یو وخت و او یوخوب ...

زمرک د مور پرهرڅه پوهېږي ، دهغې په څېره کې په هسې لیدو دی هرڅه انځورولای شي ، دهغې خندا او ژړا، دهغې دپریشانۍ او نارامۍ یوازنی او ترهرچا ورنږدې انګیرونکی هم دی دی ، ځکه نو ورته وایی :

ـ مورې ! په دې ورځو کې ولې نارامه یې ؟ ولې دپرځمکه ټیک نه کېږې ؟

مور په ځېر ځېر ورته ګوري او پوښتنې ته یې په سوچ کې ډوبه او ورو ورته وایي :

ـ مځکه پرټول مخلوق اورشوې ، پرماهم ...

په همدغه شیبه کې زمرک ته وایي چې زرو ترور وایي چې له ملوک سره ته هم باید هډوکي ټولو ته ولاړشې ...

د هډوکو په اوریدوسره دزمرک په ذهن کې یو ناڅاپه ، یو څه ور تیریږی او مورته وایی :

ـ هډوکي ، ؟! ، ملوک هره ورځ په هډوکوپسې ځې ؟

ـ هو، دایوه میاشت کېږي ، دهغه همدا ګټه وټه ده ...

ـ دهډوکو پیسې خوري ؟ څنګه یې خوري ، څنګه یې زړه ته کېږي ...

زمرک په خپله ټوله ماشومانه هوښیارتیا ، دخپلې مور په وړاندې دخپلې خبرې په منفی اړخ پوه شو، دی چې ددې د زړه په خبره پوه شو، زریی ورته وخندل :

ـ ملوک ښه هلک دی ، زمابه هم ساعت ورسره تیروي ، سرله سبا ورسره یم ...

خو دمور پر ذهن باندې یې دا خبره نښتر وهي او څوځلي په کې ځي او راځي :

ـ هډوکي ... دهډوکو پیسې خوري ، څنګه یې خوري ؟

نه پوهېږم ، دکابل دجهادي جګړودجدې د میاشتو له سختو شپو یوه وه ، ټوله شپه، پرښار باندې توغندي راغلل او ټوله شپه دښار د هرې خوا په تورتم کې یوازې اورونه ښکاریدل ، یوازې سوځول ښکاریدل او یوازې تیاره وه چې ځان یې ورته ټینګ کړی و، لاسم لمرنه و راختلي چې زمرک دملوک دوی دروازې ته تیک ودرید، له اوږدې مودې، له هغې ورځې چې دلته ددغه ښکلي ښار په زړه باندې بدرنګو بده ورځ راوستې وه، دی له کوره نه و وتلی، له څه ځنډه دواړه روان شول ، دواړه یتیمان ، دواړه داسې څوک، چې د زمانې دغم ا وماتم زور له دوی څخه خیږي ، دواړ روان دي ، دهغو د سودا بازار نه دی معلوم،پر هره چې ولاړل ، هم هغه یې ده ، د کوڅې په لنډو او اوږدو کې یې سترګې په هډوکو پسې څارو وي ، چیرې چې دسړیو ګڼه ګوڼه وي ، پرهغه خوا یې دومره تلوسه نه وي ، لکه چیرې چې دسپیو شورماشور او غو غو پورته وي . ملوک په هرڅه پوهېږي ، هغه اوس په دې هم پوهېږي چې څنګه د ډېیی سپیو له خولې باید هډوکی را واخلي ، یو شمیر سپي خو دي له لرې پیژني ، کله یې چې سترګې پرې ولګیږي، هډوکي خو لا پرېږده چې ان هغه سیمه ټوله ورته خوشي کوي ...

خو نن چې دوه تنه وو ، ښایسته له ښاره لرې ووتل، زمرک دلومړي ځل لپاره یوغته ککره وموندە ، ځای پرځای ورته ودرید ، ځکه هغه تراوسه لا دومره سپین سترګی شوی نه و ، چې هډوکي ته ، هغه هم ناپاک هډوکي ته لاس ور نږدې کړي، ځکه مخامخ ورته ودرید، ملوک پربله خوا ترې تللی و، خو دی لاهم ورته ګوري او ورته سوچي:

ـ هډوکي ، دهډوکو پیسې ؟

په همدغه سوچ کې یې سترګې هلته وړاندې په هدیره لګیږي ، خو بیاهم خپلو موندلو هډوکو ته ګوري او ورته ناست دی ، ورته ګوري او بیایې فکر ته ورځي :

ـ ککره ... دسړي ککره ! ...

په همدغه سوچ کې نور هم ډوبیږي ، دککرې دسترګو او خولې سوریو ته ګوري ، ذهن ته یې یو څه ورځي ، ورته ځیرکیږي ، داسې لکه چې یو څه ترې اوري :

ـ هو ، بچیه ... زه سړی یم ، دا زما ککره ده ...

بیا شاوخوا ته ګوري ، سترګې یې په هدیره لګیږي ، په همدغه شیبه کې یې ملوک سرته درییږي او ورته وایي :

ـ وا وا ، مبارک، دنن ډوډۍ خو دې نغده کړه ، واچوه کڅوړې ته ...

خو د زمرک لاس کڅوړي ته نه ورځي ، او په لړزیدلي آواز ورته وایی :

ـ زه یې په خپله کڅوړه کې نه اچوم ، ته یې واخله ...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خوملوک ورته به قاريږي ، په بيره ککره او څه نور هډوکي سره را غونډوي او دده په کڅوړه کې يې اچوي او خپله خبره هم پرې ور زياتوي :
- خيردی ، زه هم په لومړی ورځ تا غوندې ډاريدم ، په پيل کې سړي همداسې وي ،خو اوس ما ته وګوره چې ان په قبروکې هم ورپسې ننوزم ...
ملوک يې کڅوړه زر په شا ور واړوله ، خو د زمرک له زړه يو الله خبر و، چې څه وربانديې تيريدل ، کڅوړه يې پرکينه او ږه اړولې،ړنګ وبنګ روان دی، کله چې يو څو قدمه ولاړشي ، بيا يې پښه ترې کږه شي ، کڅوړې يې پرډډه داسې لګيږي چې دی فکرکوي ، څوک يې له دننه تخنوي، او فکر کوي چې بيا يو څوک ورته غوميږي :
- هو ، بچيه ... زه سړی يم ، دا زما ککره ده ...
څوځلې يې نوره هم کڅوړه پر مځکه کيښوده ، ملوک ته به يې ويل چې ته يې واخله ... خو هغه به بيا تسل ورکاوه ، چې ګواکي موږ غريبان يو ، بله چاره نه لرو ، ښار جګړې او لوږې دواړو په خپلو منګولو کې نيولی دی ... پاس آسمان او کښته بنده حيران ...
زمرک يې په څه خواريو او زاريو ترهغه دکان پورې چې هډوکي به يې اخيستل را ورساوه ، دکاندار هم نوي په ځی ځی کې و ، کله يی چې په ملوک سترګي ولګيدې وار دواره يې ورته وويل :
- وړه وړه ، هډوکي اخيستل موږ نور بند کړل ، حالات ډيرخراب دي، موږ نن وروستی لارې پاکستان ته واستوله اولاړه ... وروستی لاری ...
ددعه ځواب په اوريدو سره زمرک نورهم هم په فکرکې شو ، سوچ يووړ ، څو ځلې يې د ا يو ه لنډه جمله په ذهن کې ولاړ او راغله : وروستی لاری او پاکستان ... ؟
خپلې کڅوړې ته يې وکتل، بيايې هم له هغه ځايه هم هغې يو ې جملې اوس هم په غوږو انګازې کولې :
- هو ، بچيه ... زه سړی يم ، دا زما ککره ده ...
د ورستی لاری جملې ډيرناړامه کړی و، ملوک ته يې وکتل ، هغه هم حيران دريان ورته کتل ، دواړه حيران وو، چې له خپلو کڅوړو سره څه وکړي ... کورته يې هم نه شوای وړای ، دواړه دخپلوکڅوړو څنګ ته سترې ستومانه کيناستل ، زمرک اوس هم نارامه و ، ملوک ته يی مخ ور واړاو ه :
- دوی هډوکي پاکستان ته وړي ؟
- هو، هلته يې وړي ... همداده چې اوس دلته دمځکې په سر هډوکي نه پيداکيږي، ټول دوی يو وړل ... او تجارت پرې کوي ... له بده مرغه چې زما هم ډيرناوخته دغه کار ته ورپام شو ...
د ملوک مشوره داوه چې بايد خپلې کڅوړي په يوه ډيران کې واچوي ، او ترې روان شي ، خو زمرک چې دا کار نه شو کولای ،دکاندار غږ پرې وکړ، چې هډوکی بيرته يوې هديرې ته يوسئ ، ګناه لري ...
د دکاندارخبره يې سره ومنله ، دواړه د هديرې پرلور ، هلته چې د زمرک اوملوک پلرونه هم ښخ وو ، روان شول ، دواړو خپلې کڅوړې په يوه زاړ قبر کې کيښودې ، اوترې روان شول ، زمرک لا هم تر شاشا خپلې کڅوړې ته کتل لايې هم په ذهن ته هم هغه يوه لنډه جمله را تله :
- زه سړی يم ، دا زما ککره ده ...
دواړو وغوښتل چې دخپلو پلرونو قبرو ته ورشي ، څکه ډيره موده کيده چې دوی هلته نه شوای راتلای ، څکه چې په کابل کې له يوې کوڅې بلې ته تګ شونی نه و، خو دوی نن قسمت تيار راوستي وو ، زمرک يې مخامخ د پلار دقبر په لور ور روان شو ، لاره ورته نا ولده ښکاريده، قبرونه هم داسې ، څکه توغنديو مړي هم په قبرو کې آرام نه وو پريښي ، په کوم ځای کې چې دده دپلار قبر و ، په هغه ځای کې يوه لويه کنده جوړه شوې وه ، يوې او بلې خوا تاو را تاو شو ، هيڅ يې هم ونه موندل ... ملوک په بله لار دهم هغې کندې سر ته راورسيد، دواړه يو ه اوبل ته مخامخ ودريدل ، دهغه د پلار دقبر پته هم نه وه ...
دواړو يوه او بل ته وڅړل ، ...يو بل يې تر لاس سره ونيول او د کور پر خو ا د سکنی ماښام په زړه کې را وخوځيدل ، له هديرې ښه راووتل چې د زمرک په فکر کې ورتيره شوه اوملوک ته يې مخ ور واړاوه :
- لکه چې وروستي لاری زموږ دپلرونو هډونه هم پاکستان ته وړي وي ...
ماښام تياره و، چې دواړه خپلو کورونو ته ورې ترې خالي لاسونه را ورسيدل ، خو دوی خپلو ميندو ته دا ونه ويل چې د دوی د پلرونو هډونه به وروستی لاری له کابله پاکستان ته وړي وي ... ؟؟؟

کابل د ١٣٧٢ کال - جدي

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ